لوړو زده کړو وزارت
سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه ( ننګرهار )
محصلانو چارومعاونیت
کارموندنې او مشوره ورکوونې آمریت

# محصلینو ته د مشوره ورکَونې بورډ پالیسي

## لړلیک

| سرلیکونه | مخونه |
| --- | --- |


مقدمه ........................................................................................ 1
محصلینو ته مشوره ورکوونې میکانیزم او مشوره ورکوونې بورډ رامنځته کېدو قانوني اساس.......................... 1
موخه ........................................................................................ 1
د مشورو ډولونه:........................................................................ 2
لومړی: تحصیلي مشورې: ............................................................ 2
دویم: رواني ټولنیزه مشاوره:............................................................ 2
درېیم: ګډونوالو شمېر له مخې مشوره ورکوونې ډولونه ................................................ 3
اغېزمنې مشاورې په موخه مشوره ورکوونې بورډ رامنځته کول ............................................ 3
مشوره ورکوونې مسؤل شخص دندې.................................................... 4
رواني ستونزو لرونکو محصلینو د تشخیص نښې نښانې......................................... 4
مراجعینو ته د مشوره ورکوونې په برخه کې تدابیر ............................................ 5
**۱). مقدماتي کړنې** ......................................................... 5
۲). مشوره ورکوونې څرنګوالی ................................................ 5
مراجعینو د ثبت څرنګوالی ................................................ 6
مشوره ورکوونې دفتر ................................................ 6
مشوره ورکوونې په برخه کې اخلاقي مسؤلیتونه................................................ 6
مراجعینو ارجاع ................................................ Error! Bookmark not defined.
ذیصلاح مقاماتو لخوا څارنه او ورته راپور ورکول ................................ Error! Bookmark not defined.

**لوړو زده کړو وزارت**
**سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه ( ننګرهار )**
**محصلانو چارومعاونیت**
**کارموندنې او مشوره ورکوونې آمریت**

---

**مقدمه**

دا چې افراد و اشخاص په فزیکي جوړښت او د پوهې تر لا سه کولو کې مختلفې ځانګړتیاوې لري، چې په بېلابېلو فکتورونو پورې اړه لري، او دا بېلابېلې ځانګړتیاوې د ټولنیز چاپیریال په کورنۍ کې غیر معمولي، مختلف لید او مختلفو اړتیاوو له امله زېږول کېږي، له همدې امله ځینې وختونه په علمي او اکاډمیکو ځایونو کې د رواني ستونزو لرونکي محصلین شتون لري، چې ددې ستونزو سرچینې د کورنۍ شخړو، د کورنۍ پاملرنې نشتوالی، اسانتیاوو نشتوالی او داسې نور ټولنیز عوامل دي چې دا ټول د محصلینو لپاره رواني ستونزې رامنځته کوي، همدارنګه ځینې محصلین  چې د تمرکز، انګېزې او صحیح مطالعې په برخه کې ستونزې لري خاصتاً نوي محصلین چې تازه بریالي شوي وي، دوی پوهنتوني درسي سیستم سره اشنایي نه لري، حاضرۍ او کریډیټ سستم باندې نا اشنا وي، چې دوی ممکن د دغه ستونزو له کبله تحصیلي په برخه کې د ستونزو سره مخامخ شي، نو ضرور دی چې په دې هکله باید ورته لازمې مشورې او لارښوونې وشي، همدې امله د کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت مسؤلیت لري چې دا ډول محصلینو د ستونزو د حل لپاره اقدامات ترسره کړي او په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي.

**محصلینو ته مشوره ورکوونې میکانیزم او مشوره ورکوونې بورډ رامنځته کېدو قانوني اساس**

د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې ریاست د یوولس ګوونو معیارونو د جملې څخه د اتم (۸) معیار د غوښتنې په اساس رامنځته شوی دی.

**موخه**

ددې میکانیزم د جوړولو موخې په لاندې ډول دي:

۱). مؤسسه کې برحاله رواني ستونزو اخته محصلینو په نښه کول، او هغوی سره همکاري کول

۲). هغه محصلین چې ذهني ضعف او کمزورتیا له کبله صنف کې فعاله ونډه نه لري، ورسره همکاري کول ترڅو فعاله ونډه ولري

۳). هغه محصلین چې رواني وضعیت یې شدید حالت ته تللی وي، او فزیکي درملنې ته اړتیا ولري، مؤسسې په داخل او همدارنګه تدریسي روغتون ډاکټرانو په مرسته یې درملنه کول او ورسره په دې برخه کې همکاري کول

د مشورو ډولونه:

مؤسسې مشوره ورکَونې او کارمونډنې آمریت کې په لاندې برخو کې محصلینو/مراجعینو ته مشوري ورکول کېږي.

**لومړی: تحصیلي مشورې:**

دا د مشاورې هغه ډول دی، چې مراجعینو سره د هغوی تحصیلي اهدافو په ټاکلو، د مطالعې صحیح طریقو، مطالعه شرایطو، تحصیلي پلان جوړونې، مختلفو تخصصي، فعالیت جواز اخیستنې په برخه کې مرسته کېږي، او لازمې مشورې ورکول کېږي. یعنې په ټولنه کې مشاور دا ډول مشورو کې مراجعه کوونکو محصلینو سره د تعلمي، تحصیلي او مسلکي چارو په برخه کې مرسته کوي.

**دویم: رواني ټولنیزه مشاوره:**

رواني ټولنیزې مشاورې ډېر ډولونه لري، چې هر یو یې د ځانګړو شرایطو او اړتیاوو لپاره کارول کېږي، دلته یوازې هغه مشورو هغه ډولونو بحث کېږي، چې په اړه یې مراجعین زمونږ دفتر ته مراجعه کوي، او دې برخه کې ورته مشوره ورکول کېږي.

**الف: ټولنیزه مشاوره**: په دا ډول مشاوره کې مشاور لخوا د مراجعینو سره د ټولنیزو ستونزو، ټولنیزو اړیکو او کلتوري اختلافاتو په حل کې مرسته کوي.

**ب: مسلکي مشاوره:** د مراجعینو، (محصلینو او فارغانو) سره د مسلکي پرمختګ، کارموندنې او وظیفوي ستونزو په اړه مرسته کوي.

**ج: ذهني روغتیا مشاوره:** د رواني ناروغیو (ګډوډیو)، ویرې، خپګان، غصې، او نورو ذهني ستونزو په تشخیص او درملنه کې مرسته کوي، البته هغه مراجعین چې رواني لحاظه یې وضعیت د اندېښنې وړ وبلل شي، د رواني مشورې

ورکولو تر څنګ رواني برخې متخصص ډاکټر ته ارجاع کېږي، ترڅو د تعلیمي یا رواني مشورې تر څنګ ورته دارو درمل هم پیشنهاد شي.

**دریېیم: ګډونوالو شمېر له مخې مشوره ورکوونې ډولونه**

ګډونوالو شمېر له مخې مشوره په دوه ډوله ترسره کېږي، انفرادي او ډله ایيزه

۱). انفرادي یا فردي مشاوره هغه چا لپاره ده چې یوې مشخصې موضوع په هکله حاضر شوی وي، او شخص غوښتنه ددې کوي چې خپلې ستونزې دې په انفرادې ډول شریکې شي، ترڅو حل لار ورته پیدا او په دې برخه کې مشوره تر لاسه کړي.

۲). په همدې توګه ګروپي او ډله ایيزه مشاوره هغه حالت کې دایرېږي، کله چې په یوه واحده موضوع کې مختلف مراجعین شتون ولري، ستونزې د حل غوښتونکي و اوسیږي او یاده برخه کې مشوره تر لاسه کړي، چې دغه تر ډېره په تحصیلي مشوره یعنې مطالعې کولو په تګلارو او تحصیلي پلان جوړونې برخه کې دایرېږي.

اغېزمنې مشاورې په موخه مشوره ورکوونې بورډ رامنځته کول

دا چې یو شخص نشي کولی په مختلفو برخو او مراجعینو مختلفو وضعیتونو کې مشورې ورکړي یا دې مراجیعنو سره په هره برخه کې همکاري او لارښوونه وکړي، بلکې ضرورت دی چې نور داسې مسلکي اشخاص هم وي، ترڅو د ضرورت پر وخت ورته معرفي شي او په دغه برخه کې لازم اقدامات ترسره شي، په همدې موخه کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت د (مشوره ورکوونې په برخه کې مشورتي بورډ) رامنځته کوي، چې تشکیل یې په لاندې ډول دی.

۱). مشوره ورکَونې او کارموندنې آمر (مسئول) په توګه

۲). محصلانو چارو مرستیال د غړي په توګه

۳). تدریسي روغتون یو تن عقلي او عصبي برخې ډاکټر د غړي په توګه

۴). مؤسسې د معالجوي طب پوهنځي علوم سلوک مضمون استاذ غړي په توګه

۵). مؤسسې معالجوي طب پوهنځي یو تن عقلي او عصبي مضمون استاد غړي په توګه

دا چې پورته مشورتي بورډ خپلې چارې په ښه شکل ترسره کړای شي، نو په همدې اساس مشورتي بورډ تشکیل، هدف او مسؤلیت اړوند طرزالعمل العمل جلا ترتیب کېږي.

**مشوره ورکوونې مسؤل شخص دندې**

1. استاذانو سره د هغو محصلینو چې رواني یا ذهني کمزورتیا لري، ورسره د ځانګړي سلوک او همکارۍ کولو په پار ورسره مجالس کول
2. ټولګیو نماینده ګانو هڅول تر څو هغه محصلینو په هکله همکاري وکړي، کوم چې رواني یا درس ویلو په برخه کې ستونزې لري.
3. هغه محصلینو ته مشورې ورکول چې رواني او ذهني ستونزې ولري.
4. هغه محصلین چې رواني ستونزې لري او باید دوایي درملنه یې وشي، د اړتیا پر وخت روغتون ته معرفي کول
5. چاپي او مطبوعاتي رسنیو له لارې محصلینو ته روحیه ورکوونکي او هڅوونکي پیغامونو شریکول
6. رواني ستونزو څخه د مخنیوي او محصلین خپل درس ته تشویق او هڅول
7. محصلینو سره مرسته کول ترڅو د اضطراب، خپګان، قهر او نورو ذهني او احساسي ستونزو سره مقابله وکړي او رواني هوساینې ته ورسیږي.
8. د مراجعه کوونکو محصلینو سره مرسته کول ترڅو خپل ځان بهتر وپېژني، خپلو قوتوو او کمزوریو ته متوجه شي، او په ژوند کې د شخصي ودې لپاره ګامونه پورته کړي، همدارنګه یاد هدف تر لاسه کېدو په موخه به وخت ناوخت مشوره ورکَونې امر ټولګیو ته ځي او دې برخه کې به محصلینو ته ځانګړې مشورې ورکوي.

**رواني ستونزو لرونکو محصلینو د تشخیص نښې نښانې**

- ✓ هغه محصلین چې رواني ستونزې ولري، د نورو محصلینو سره یو شمېر توپیرونه لري، چې دغه عبارت دي له:
- ✓ یوازې او په انزوا کې پاتې کېدل
- ✓ صنفي فعالیتونو کې کمه ونډه اخیستنه
- ✓ فکري تمرکز کې کمزوري (ضعف)
- ✓ ژور خفګان او زړه تنګي
- ✓ د یادولو مهارتونو نه درلودل

- ✓ د حقارت، ضعف او ناتوانۍ احساس کول

**مراجعینو ته د مشوره ورکوونې په برخه کې تدابیر**

کارموندنې او مشوره ورکوونې آمریت د مشوره ورکوونې په برخه کې ترسره کېدونکي تدابیر په دوه ډوله دي:

### ۱). مقدماتي کړنې

هغه محصلین چې رواني ستونزې لري، کمېټه باید لاندې تدابیر ترسره او په پام کې یې ونیسي:

- د اړتیا پر وخت د مشوره ورکولو لپاره تقسیم اوقات جوړول (کارموندنې او مشوره ورکوونې آمریت لخوا)
- د کورنۍ او ټولګیوالو سره یې اړیکه نیول او د اړونده رواني ستونزو لرونکو محصلینو خصوصیاتو په هکله معلومات تر لاسه کول
- پوهنتوني محیط کې د محصل د کړنو څخه څارنه او مراقبت کول
- محصل د ستونزو د تشخیص په هکله پوښتنپاڼه جوړول
- محصل سره د کورنۍ چلند او ټولنیز ژوند شرایط او وضعیت یې مطالعه کول
- ژورخفګان تشخیص د علمي ټیسټ په واسطه

### ۲). مشوره ورکوونې څرنګوالی

- د محصل کورنۍ ته د نوموړي چلند کې تغیر راوستلو په هکله ورسره اړیکه نیول او مشورې ورکول
- محصل سره د کورنۍ دندې په ورکولو او صنف کې د فعاله ساتلو په هکله استاذانو همکارۍ غوښتنه
- ټولګیوال په مرسته یې کورنۍ دندو او صنفي فعالیتونو کې مرسته او همکارۍ کول
- محصل څخه صنف په داخل او بهر کې په دوامداره توګه څارنه او مراقبت کول
- د هغو بدلونونو ارزونه چې د کورنۍ، ټولګیوالو او ښوونکو څخه د مشورې په واسطه ترلاسه شوي
- هر کله چې رواني ناروغۍ اخته شخص حالت شدید وي، او ضرورت وي چې درملو څخه هم استفاده وشي، نو دې ډول وضعیت کې بورډ غړو څخه همکاري غوښتل کېږي، رواني ټولنیزه مشوره او درمل دواړه په پام کې نیول کېږي.

## مراجعینو د ثبت څرنګوالی

۱). ددې لپاره چې د مشوره ورکونې په برخه کې چارې په منظم ډول ولاړې شي، نو په همدې خاطر د کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت لخوا د مشوره ورکوونې او ستونزې د نوعیت د تشخیص لپاره یو فورم ډیزاین شوی دی، چې په لومړیو کې مراجعینو ته ورکول کېږي، چې په دغه فورمه کې لاندې برخې شاملې دي:

پاڼې په لومړنۍ برخه کې محصل نوم، پلار نوم، ټولګی، پوهنځی، مبایل شمېره او محصل لاسلیک شتون لري او په دویمه برخه کې چې دوه کالمه لري، په اولني کالم کې ستونزو نوعیت (یعنې کومه برخه کې مشوره غواړي یا څه ستونزه لري مثلاً مطالعې په برخه کې، ژور خپګان درلودونکی دی، ازموینې استرس عدم کنټرول او یا هم تحصیلي پلان نه شتون چې نوموړی یې په تحصیلي برخه کې د ستونزو سره مخامخ کړی دی) ذکر شوی او په دویم کالم کې محصل ته مشوره او لارښوونه ترڅو راتلونکي کې یې په پام کې ونیسي. هغه محصلین او مراجعین چې یوازې مطالعې په برخه کې مشوره اخیستنې لپاره امریت ته مراجعه کوي، پورته ذکر شوي فومونه نه ورکول کېږي، یوازې لنډه مصالحه ورسره ترسره کېږي، او تحصیلي پلان جوړولو په صورت کې ورته د روزمره کارونو د ښه تنظیم او اغېزمن تحصیلي پلان جوړونې په موخه ورته یو ځانګړی فورم ورکول کېږي، ترڅو همدې له مخې مشاور او مراجع وشي کولی چې یو ښه تحصیلي پلان ترتیب او ددې تر څنګ محصل/مراجعه کوونکی خپل هدف په اسانۍ سره تر لاسه کړای شي.

۲). د مشوره اخیستونکو اشخاصو ثبت کول په ځانګړي کتاب کې، ترڅو د شواهدو په توګه کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت سره پاتې شي.

## مشوره ورکوونې دفتر

دا چې مشاوره یوه ځانګړې پروسه ده، چې مشاور او مراجع ترمنځ د یوې مسلکې اړیکې په اساس رامنځته کېږي، او له مخې مراجعین او مشاور دواړه هڅه کوي ستونزې ته د حل لارې پیدا کړي، نو ضرورت دی چې دا ډول چارې په یوه ارام او مناسب ځای کې ترسره شي، چې په همدې خاطر مشوره ورکوونې لپاره ځانګړی دفتر شتون لري، چې د شور او مزاحت پرته پکې اړونده چارې ترسره کېږي. په یاد امریت کې دفتري ټلیفون، مصاحبې لپاره مناسب میز، ناستې لپاره مناسبې چوکۍ او کاوچونه، الماری چې اړونده اسناد پکې ارشیف شي، موجود دي.

**مشوره ورکوونې په برخه کې اخلاقي مسؤلیتونه**

څرنگه چې مشاورې په پروسه کې مشاور او مراجعین دخیل وي، او مختلفو موضوعاتو او مختلفو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کېږي، په همدې توگه مراجعین ستونزو د ښه تشریح لپاره مهم معلومات ورکوي، نو مشاورې د اصولو سره سم یې هر ډول راز او اسناد خوندي ساتل کېږي، پوښتنو ترسره کولو پر وخت حدود په پام کې نیول کېږي، او هغه پوښتنو او معلوماتو تر لا سه کولو ډډه کېږي چې ضرورت ورته نه وي.

**مراجعینو ارجاع**

لکه څرنگه چې وړاندې مو یادونه وکړه چې کارموندنې او مشوره ورکوونې امر په یوازې ځان نشي کولی چې مراجعینو ته په مختلفو برخو کې مشورې ورکړي، نو په همدې اساس یاد امریت کولی شي چې د ضرورت پر وخت مراجعین د مشورتي بورډ غړو (مؤسسې په داخل کې اړونده استاذ او یا هم روغتون کې د دارودرمل) لپاره رسماً معرفي کړي.

**ذیصلاح مقاماتو لخوا څارنه او ورته راپور ورکول**

څرنگه چې کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت د محصلانو چارو معاونیت په چوکاټ کې شتون لري، نو په همدې اساس څارنه او نظارت یې هم د یاد معاونیت له لوري ترسره کېږي، او کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت مکلف دی چې مشوره ورکوونې برخه کې ترسره شوو اجرااتو څخه اړونده معاونیت ته راپورونه ورکړي.

محصلینو ته د مشوره ورکوونې بورډ پالیسي د مؤسسې علمي شورا په ۱۰ گنه پروتوکول کې ثبت ۱۴۰۴/۰۸/۲۸ او تائید دی

علمي شورا منشي

علمي شورا مشر